# کډوالې مېرمنې

British Red Cross



## د ډېجېټلي ځواکمنتیا او ارتباط پروژه

5 غونډه – ښځې، ماشومان او د خوندیتوب حق

Home Office

The power of kindness

# ښه راغلاست!

نن به موږ:

- د ’شخصي خوندیتوب‘ په معنی خبرې اترې وکړو
- د ’ټولنې خوندیتوب‘ په معنی خبرې اترې وکړو
- د خوندیتوب حقونو او د جرم د رپوټ کولو څرنګوالي په اړه معلومات وړاندې کړو
- د ماشومانو په حقونو خبرې اترې وکړو



# بنسټيز اصول

- محرمیت فضاء
- خونديْ فضاء
- مېرمنو ته ځانګړې فضاء
- د تلیفونونو بې غږه کول
- درناوي کوونکي اوسئ
- قضاوت نه کوونکي
- په یو وخت کې یوه خبره وکړئ
- که خبري نه کوئ زوم (Zoom) بې غږه (Mute) کړئ
- **که تاسو د یو څه تکرار ته اړتیا لرئ! نو وی یې غواړئ**

- نه پوهېدل ستونزه نده



# د شخصي خوندیتوب معنی څه ده؟



"د یو فرد وړتیا چې خپل ورځنی ژوند د نورو له خوا د رواني، عاطفي او فزیکي زیان رسولو له ګواښ او ډار څخه په خوندي بڼه سرته ورسوي"

The power of kindness

# د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالی (GBV) څه شی دی؟

- ایا تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستنه د یو شي په معنی دي؟
- د ناوړې ګټې اخیستنې او واک ترمنځ څه اړیکه ده؟
- ایا ژغورل شوی او قرباني د یو شي په معنی دي؟
- ناوړه ګټه اخیستونکي څوک دي؟ قربانیان / ژغورل شوي څوک دي؟
- د GBV لاملونه او مرستندویه فکتورونه کوم دي؟

The power of kindness

# ایا تاسو موافق که نا موافق یاست؟

ټول خلک په مساوي ډول **د ناوړه ګټې اخیستنې** قرباني کېدای شي.

په واده شویو کې **جنسي تیری** دومره جدي نه دی لکه د یوه پردي لخوا جنسي تیری.

ناوړه ګټه اخیستونکي په تاوتریخوالي لرونکو کورونو کې لوی شوي

الکول او نشه يي توکي خلک لاپېر تاوتریخوالی ته ورکاږي

The power of kindness


کوم چلندونه یو
جنایي جرم ګڼل
کیدای شي؟

# کورنۍ ناوړه ګټې اخیستنې څه شی دئ؟

- په ډېری قضیو کې د ژوند ملګري د ژوند پخواني ملګري لخوا، خو همدارنګه د کورنۍ غړي یا پالونکي لخوا هم د کنټرول، اجبار، ګواښلو، سپکاوي او د جنسي تاوتریخوالی په شمول په تاوتریخوالی ډک چلند یوه پېښه یا د پېښو لړۍ.
- دا خورا معمول ده. په ډېری قضیو کې دا په میرمنو تجربه کېږي او د نارینه وو لخوا ترسره کېږي.

**په کورني ناوړه ګټه اخیستنه کې لاندې موارد شامل دي، خو ورپورې محدود ندي:**

- جبري کنټرول )د فزیکي یا جنسي تاوتریخوالي کارولو یا ګواښ سره د ډارولو، سپکاوي، ګوښې کولو او کنټرول یوه لړۍ(
- رواني او/یا عاطفي ناوړه ګټه اخیستنه
- بدني یا جنسي ناوړه ګټه اخیستنه
- مالي یا اقتصادي ناوړه ګټه اخیستنه
- ځورونه او تعقیبول
- آنلاین یا ډیجیټلي ناوړه ګټه اخیستنه

The power of kindness

# مالي ناوړه ګټه اخیستنه څه شی دی؟

**د ژوند ملګري لخوا مالي ناوړه ګټه اخیستنه داسې ښکاري لکه:**

- دوي چې تاسو د کار کولو ای کار ته د تللو څخه منع کوي
- دوي چې کالج ای پوهنتون ته ستاسو د تګ مخه نیسي
- د هره شي لپاره چې تاسو يې مصرفوئ ستاسو د ګرم ګڼلو غوښتنه کيږي
- تاسو چې نور د دي توان نه لرئ چې د خپلو مالي خدماتو چمتو کوونکي حسابونو ته لاسرسی ومومئ
- چې ستاسو ملګري تاسو په اړینو توکو د مصرفولو څخه منع کړي اوسئ
- دوي چې ستاسو په نوم کریډیټ کارتونه او/ای پورونه اخیستي وي
- دوي چې ستاسو د کورنی بودیجه پرته له دي چې تاسو ته ووای په شیانو مصرف کړې وي
- ستاسو د ژوند ملګري چې ټول بیلونه

**د کورنی د یوه غړي، ملګري، د ژوند ملګري ای پالونکي لخوا مالي ناوړه ګټه اخیستنه داسي ښکاري لکه:**

- ی څوک چې ستاسو په نوم پیسې راخلي ای کریډیټ ترلاسه کوي پرته له ستاسو پوهې ای اجازې
- ی څوک چې تاسو مجبوروي چې د خپلو حسابونو کنټرول ورته په لاس ورکړئ.
- ی څوک چې ستاسو له اجازې پرته ستاسو د تقاعد ای نور چکونه نغدې کوي
- دوي چې خپل نوم ستاسو حساب ته اضافه کړی وي
- دوي چې له تاسو د خپلې خوښې د بدلولو غوښتنه کړې وي
- ی چا چې تاسو ته د سودا پیرودلو ای د بیلونو تادیه کولو وړاندیز کړی وي، خو تاسو ددې پېښېدل نه ګورئ

# د ټولنې خوندیتوب – د ټولنې ضد چلند

**ټولنې ضد چلند:**

- یرغلیز، ډارونکی او ویجاړونکی فعالیت چې د بل چا د ژوند کیفیت ته زیان رسوي او ویجاړوي.
- تاسو ښايي فکر وکړئ چې یوه پېښه کوچنۍ ده او مهمه نده چې ورځخه یې پیل کړئ، خو د ټولنې ضد چلند کېدای شي د اوږدې مودې لپاره دوام وکړي او خورا جدي شي. د ټولنې ټول ضد چلندونه د جرم په توګه نه طبقه بندي کیږي خو ډیری یې دي، او کېدای شي جرم شي.

**تاسو یې لاندینیو ته رپوټ کولای شئ:**

- د کور ښتن ته، چې دنده لري ډاډ ترلاسه کړي چې کرایه کوونکي داسې چلند نه کوي چې د دوی د کرایې تړون مات کړي
- ستاسو په سیمه ایزه شورا کې اړوندې څانګې ته، د بېلګې په توګه د استوګنځي، د چاپیریال روغتیا او د ټولنې ضد چلند ټیم ته
- پولیسو ته، که تاسو فکر کوئ چې جرم ترسره شوی دی.

که تاسو د ټولنې ضد چلند تجربه کوئ، نو مخکې له دې چې اقدام وشي، تاسو باید د شواهدو په چمتو کولو کې مرسته وکړئ. د بېلګې په توګه؛ د هغو پېښو یوه یادداشت کتابچه (diary) ساتل چې پېښیږي. کېدای شي له تاسو څخه وغوښتل شي چې په خپل ملکیت کې د غږونو د شور ثبت کولو لپاره تجهیزات ولرئ. تاسو ښايي اړ شئ چې پولیسو ته په 101 او که چیرې بېړنی

# تبعیض – دا څه دي؟

**د یو شخص یا د خلکو یوې ځانګړې ډلې سره توپیریز چلند کول، په ځانګړې توګه د هغې طریقې څخه په لاخرابه بڼه چې تاسو یې د نورو خلکو سره کوئ، د دوی د پوستکي رنګ، جنسیت، جنسي تمایل او داسې نورو له امله.**

- عمر
- د جنډر بدلول
- واده شوي یا په مدني شراکت کې
- امېندواره کې یا د مورکېدو د رخصتۍ پر مهال
- معلولیت
- نژاد چې رانغاړي رنګ، او ملیت، توکمیزه یا ملي منشاء.
- دین او عقیده
- جنسیت
- جنسي تمایل

The power of kindness

# د مساواتو قانون 2010

- د مساواتو قانون 2010 په قانوني توګه خلک په کار ځای او پراخه ټولنه کې له تبعیض څخه خوندي کوي.
- دي د تبعیض ضد پخواني قوانین په یو واحد قانون بدل کړل، چې په قانون پوهیدل آسانه کوي او ځینو حالاتو کې خوندیتوب پیاوړی کوي. دا ګه بېلابېلې لارې په ګوته کوي په کوم کې چې د یو چا سره چلند کول غیر قانوني دي.
- د دي په اړه لارښود معلومات ترلاسه کړئ چې څوک له تبعیض څخه خوندي دي، د قانون له مخې د تبعیض دولونه کوم دي او دا چې تاسو کوم اقدام کولای شئ که تاسو احساس کړئ چې ستاسو پر وړاندې تبعیض شوی.




The power of kindness

# د ټولنې خوندیتوب – د کرکې جرم

## د کرکې جرم څه شی دی؟

**هغه پېښه یا جرم چې د یو اچا په وړاندې د دوي د هویت د یوې برخې پراساس ترسره کېږي**

هویت پنځه کټګورۍ دي کله چې یو څوک د دوي سره د تعصب یا کینې له امله په نښه کېږي په وړاندې د:

- معلولیت
- نژاد یا توکم
- دین یا عقیدې (چې د عقیدې نه درلودل هم رانغاړي)
- جنسي تمایل
- د جنډر هویت

**د کرکې جرم که**
**د کرکې پېښه ؟**



# پولیسو ته د یوه جرم راپور ورکول

# Report a crime or incident

## ⚠ Is it an emergency?

Does it feel like the situation could get heated or violent very soon? Is someone in immediate danger? If so, please **call 999** now.

- که تاسو د یو جرم راپور ورکوئ چې د پرمختګ په حال کې دی یا که څوک په نا ببره خطر کې وي نو 999 ته زنګ ووهئ.
- که جرم بېړنی نه وي، نو 101 ته زنګ ووهئ یا خپلو سیمه ایزو پولیسو سره اړیکه ونیسئ.
- تاسو همدارنګه کولی شئ 101 ته زنګ ووهئ ترڅو پولیسو ته معلومات ورکړئ یا یوه پېښه ثبته کړئ.



څه به پېښ شي کله چې یو څوک پولیسو ته د جرم راپور ورکړي؟

# د ماشوم ناوړه کټې اخیستنې څخه د ماشومانو ساتنه

د ناوړه کټې اخیستنې ځلور

ډوله:

- بدني ناوړه کټه اخیستنه
- د ماشوم جنسي ناوړه کټه اخیستنه
- غفلت
- عاطفي ناوړه کټه اخیستنه

The power of kindness

# ټولنیز خدمات

ایا تاسو پوهیږئ چې د ماشومانو ټولنیز خدمات څه کوي؟

ایا تاسو د لویانو او د ماشومانو ټولنیزو خدماتو ترمینځ په توپیر پوهیږئ؟

ایا تاسو د "ارمن ماشوم" او د "ماشوم خوندیتوب" ترمینځ په توپیر پوهیږئ؟

ایا تاسو فکر کوئ چې د ماشومانو ټولنیز خدمات دا واک لري چې ماشومان د مور او پلار له پالنې څخه په اسانۍ سره جلا کړي؟

# ټولنیز خدمات

ټولنیز خدمات یو قانوني مکلفیت لري چې د خطر سره مخ ماشومانو او لویانو د هوسایینې ساتنه وکړي او غښتلې یې کړي

## د ماشومانو ټولنیز خدمات

1. هر هغه ماشوم چې د ناوړه ګټې اخیستنې او زیان په خطر کې وي
2. د ماشومانو ملاتړ ښایي وشي په:
   - لومړیو کې مرسته
   - اړمن ماشوم
   - د ماشوم خوندیتوب

## د لویانو ټولنیزي خدمات

1. د بدني او رواني ستونزي د یوې پایلې په توګه د پاملرنې او ملاتړ اړتیاوې. (د بیلګې په توګه دېمنشیا، د موادو ناوړه ګټه اخیستنه، د عمر او ناروغۍله کبله په نورو پورې تړاو او داسې نور)
2. د ناوړه ګټې اخیستنې او زیان په خطر کې دي
3. د دوی په سوکالۍ او خوندیتوب باندې د پام وړ اغیزه کړې

The power of kindness

# د ماشومانو ټولنيز خدمات څه رول لوبوي

- د ماشومانو د هوساینې ساتنې او غښتلي کولو قانوني مکلفیت
- د ماشومانو خدمات ماشومانو او د هغوی کورنیو ته د "اړتیاوې ارزونې" وروسته، د پاملرنې ډېر بېلابېل خدمتونه وړاندې کوي
- د ډېری مسلکیانو، خیریه موسسو او سازمانونو سره به په شریکه کار وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې کورنۍ هغه مرستې ترلاسه کوي چې دوي ورته اړتیا لري

**کورنۍ د ماشومانو په ټولنیزو خدماتو کې څنګه ښکېل کېږي؟**

- کورنۍ په مستقیم ډول د ماشومانو له خدماتو څخه د مرستې غوښتنه کوي
- د نورو مسلکیانو لخوا لېږدونه )پولیس، ښوونکي، نور عوام(. لېږدونه به له دې کبله پېښه شي چې د ماشوم )ماشومانو( د ساتنې او هوساینې په اړه اندېښنې شتون ولري.

The power of kindness

# د ماشومانو خدماتو د ساتنې او خونديتوب دنده

**د ماشوم خونديتوب**

**د ماشومانو د 1989 کال د قانون 17 برخه**

د دې شک کول لپاره معقول دلیل شته چې ګواکې ماشوم کړېږي، او شوني ده چې د پام وړ زیانونو سره مخ وي.

**اړمن ماشوم**


**د ماشومانو د 1989 کال د قانون 17 برخه**

- ددې احتمال نشته چې دوی دې د روغتیا یا پراختیا یو منطقي معقول معیار ولري، او
- ددې احتمال شته چې د دوی روغتیا یا پرمختګ دې زیانمن شي، او
- دوی معلولیت ولري

The power of kindness

# د قوانینو ډولونه

- تاسو د انګلستان د قانوني سیستم په اړه په څه پوهیږئ؟
- ایا تاسو د مدني او جزایي قوانینو ترمنځ په توپیر پوهیږئ؟
- د جرم یوه بېلګه ووایاست.
- په انګلستان کې د محکمې د یو ډول مثال ورکړئ



# د قوانینو ډولونه

## مدني او د کورنۍ قانون

- د شخصي افرادو تر منځ، د افرادو او عامه ادارو ترمنځ اختلافات.
- تاسو له وکیل څخه غواړئ چې ستاسو قضیه چمتو کړي او په محکمه کې ستاسو استازیتوب وکړي.
- په مدني قضیه کې د محکمې پریکړه د مسؤلیت یا نه مسؤلیت په اړه ده.
- جبران یا یو تړون یا قضاوت چې د مالي سرچینو پورې اړه لري
- د کورنۍ محکمه، د کار محکمه او د کاونټي یا ولسوالۍ محکمه

**بیلګې:**

- د سړک ترافیکي پیښې، طبي او کلینیکي غفلت
- د تړون سرغړونه
- پور او استوګنځای
- د تبعیض سره د یو کارکوونکي مخ کېدل

**د کورنۍ محکمه**

- طلاق، د مدني مشارکت پاشل کېدل، د ماشومانو مسئلې، د ماشومانو د پاملرنې ترتیب برابرول او کورنۍ تاوتریخوالی

## د جزا قانون

- جنايي جرم چې ټوله ټولنه یې اغیزمنه کړې وي
- د پولیسو ښکیلتیا او د تاج څارنوالۍ خدمت یا )Crown Prosecution Service (CPS
- په جرمي قضیه کې د محکمې پریکړه د مجرم یا نه مجرم په اړه ده.
- د هغه چا لپاره چې مجرم وګڼل شي محکومیت او د توقیفي سزا په بڼه سزا، جریمه یا د ټولنې خدمت
- د قاضیانو محکمه یا د تاج محکمه.

**بیلګې:**

- په ودانیو ننوتل، غلا، سوځول او جنايي زیانونه
- قتل، برید، جنسي تیری او بېټري )battery(
- ځورونه او کنټرولونکی چلند
- اجباري واده، د ښځو د تناسلي الې ختنه؛ د انسان قاچاق
- دوکه، د تورو پیسو سپینول او د مخدره توکو معاملې

# کلیدي کلمې

**ناوړه ګټه اخیستنه** - د واک څخه ناوړه ګټه اخیستنه ده. پدې کې بدني، عاطفي، مالي او جنسي ناوړه ګټه اخیستنه شامله ده.

**رضایت** - د انتخاب له لارې یو څه سره منښته ده. داسې نه انګیرل کیږي چې ګواکې بدلون نه کوي او بیرته ترې انصراف کیدای شي.

**جنایي جرم** - یو عمل چې د قانون له مخې د مجازات وړ وي.

**د کرکې جرم** – یو جرمي عمل، چې د قرباني د )قانون له مخې( خوندي شوي ځانګړتیاوو له امله ترسره کیږي.

**خوندیتوب** – د قانوني تدابیرو په شمول یو داسې تدبیر چې د یو شخص د آزادۍ او برابرۍ ساتنه کوي.

**تاوتریخوالی** - د فزیکي ځواک یو عمل چې د زیان رسولو لامل کیږي یا یې موخه لري. د تاوتریخوالی له امله رامینځته شوی زیان فزیکي او رواني دواړه کیدای شي.

The power of kindness